مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۵مه | ۵۲۹مه گڼه

# د حکومت بې پروايي او کرونا؛

## د هرات والي: که د حکومت بې پروايي دوام وکړي، ستر ناورين به رامنځ ته شي



۳

### د کرونا د مخنیوي لپاره بنه، خو ناکافي گامونه

۲ مخ

### چالش های مذاکرات بین الافغانی

۲ مخ

### ایا ناول کرونا لومړی په امریکا کې رامنځ ته شو؟

۳ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### قلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د قلم د لوړو زده کړو موسسې مشر وايي، د پوهنځیو ډېرول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسترۍ پروگرام پیلول او د سیمې په کچه اعتبار پیدا کول یې راتلونکي پلانونه دي.




### چارواکي: روان کال ۱۲.۳ میلیارده افغانۍ ترانسپورټي عواید راټول شوي




چارواکي وايي، روان کال د ترانسپورټي خدمتونو له لارې ۱۲.۳ میلیارده افغانۍ عواید راټول شوي.

د ترانسپورټ سرپرست وزیر محمد یما شمس ویلي: «د دغو عوایدو له جملې څخه ۷.۲ میلیارده افغانۍ د ملکي هوايي چلند ادارې، ۲.۵ میلیارده افغانۍ د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې، ۲.۱ میلیارده افغانۍ د سړک ترانسپورټ ادارې، ۴۸۸ میلیونه افغانۍ د ترافیکو ادارې او ٦۵ میلیونه افغانۍ د سړکونو د ملي ادارې له خوا راټولې شوې دي.»

د ترانسپورټ وزارت د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۸ کال کې په ټول هېواد کې د تطبیق شویو پروژو له لارې په مستقیم ډول د شاوخوا ۲۳ زرو او په غیر مستقیم ډول د شاوخوا ۱۳۸ زرو دندو د رامنځ ته کېدو زمینه برابره شوې ده. د یادونې ده چې روان کال په ایران کې د اوکرایني الوتکې له نسکورېدو وروسته، ډېرى الوتنې د دغه هېواد د فضا پر ځای د افغانستان له فضا تېرېدې چې ورسره په عوایدو کې هم د پام وړ ډېروالی راغی.

### جیو پالیټکس: د سولې تر مذاکراتو وروسته د یوې بلې ادارې د رامنځ ته کېدو وړاندیز شوی

د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون له لاسلیک وروسته، د بین الافغاني مذاکراتو پر لور پرمختگونه پڅ او ټکني شوي دي.

د امریکا او طالبانو تړون چې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا په گډون مختلفو خواوو تایید کړی، د طالبانو او اوسني حکومت د استازو په شمول د افغانانو د مختلفو خواوو او جریانونو تر منځ د سولې او د هېواد د راتلونکي سیاسي نظام د ځرنگوالي په اړه خبرو ته لار پرانیزي.

په دې برخه کې پرمختگونه که څه هم تر اوسه په صفر حساب دي، خو عامو افغانانو او د افغانستان د قضیې نړیوالو لوبغاړو هیلې ورپورې تړلې دي.

د جیو پالیټېکس نشریې د افغانستان د سولې د خبرو، د دغو خبرو په پایله کې د رامنځ ته کېدونکي حکومت د ځرنگوالي او بیا هغه حکومت ته د سیاسي واک د لېږد پر لارو چارو لیکنه خپره کړې ده.

په دې لیکنه کې راغلي چې افغانستان راتلونکي حکومت ته د واک د لېږد لپاره یوځل بیا د ۲۰۰۱ ز کال په څېر د یوې بلې انتقالي، عبوري او یا موقتي ادارې رامنځ ته کېدو ته اړتیا لري.

سرچیني لیکلي: «څومره چې د راتلونکي رژیم او حکومتولۍ ځرنگوالی مهم دی، په همدې کچه د هغه کس انتخاب هم اړین دی، چې دا پروسه د مذاکراتو په پایله کې رامنځ ته کېدونکې ادارې ته په بریالیتوب سره انتقال کړي.»

په دې لیکنه کې پر دې هم بحث شوی، چې د دې ادارې مشرۍ ته باید د پخواني ولسمشر حامد کرزي په څېر وړ او مناسب شخص وموندل شي.

### سیاسیون دې ژر تر ژره په افغانستان کې روان ناورین پای ته ورسوي




۲ مخ

### منابع: رهایی زندانیان طالبان به دلیل مخالفت‌ها به تأخیر افتاده است



مخالفت‌ها دربارهٔ چگونگی رهایی زندانیان طالبان از زندان‌های حکومت افغانستان، منجر شد تا طبق وعده و فرمان رئیس‌جمهور روند رهایی این زندانیان به وقت معین آغاز نشود.

بربنیاد فرمان رئیس‌جمهور غنی، قرار بود روند رهایی تا پنج‌هزار زندانی طالبان دیروز به گونهٔ تدریجی آغاز شود و در روز نخست، صد زندانی از زندان پروان آزاد شوند.

اما، منابع نزدیک به طالبان می گویند که برنامهٔ چگونگی رهایی زندانیان از سوی حکومت این روند را با چالش روبه‌رو کرده‌است و ممکن گفت‌وگوهای میان افغانان را آسیب بزند.

سید اکبر آغا، عضو پیشین گروهٔ طالبان گفت: «اگر به‌گونه‌یی که بین امریکا و طالبان توافق شده‌است، زندانیان طالبان رها نشود، به نقل از طالبان، معلوم می‌شود که مذاکرات هم شروع نمی‌شود.»

سمیع یوسفزی، خبرنگار آزاد در قطر نیز بیان داشت: «این مسؤلیت امریکا است که پنج هزار زندانی را آزاد کند، در غیر آن طالبان به مذاکرات آماده نمی‌شوند.»

بربنیاد توافق صلحی که دو هفته پیش میان امریکا و طالبان امضا شد، امریکا به طالبان تعهد سپرده‌است که تا پنج‌هزار زندانی این گروه ۱۰ روز پس از امضای این توافق‌نامهٔ صلح از زندان‌های حکومت افغانستان آزاد خواهند شد. اما، در فرمان رئیس‌جمهور غنی که چهار روز پیش صادر شد، آمده‌است که این روند در چند مرحله خواهد بود و بربنیاد آن در نخست روزانه صد زندانی طالب از بند رها خواهند شد و پس از آغاز و ادامهٔ گفت‌وگوهای مستقیم هیئت حکومت و کاهش چشم‌گیر خشونت‌ها از سوی طالبان، زندانیان دیگر نیز رها خواهند شد.



دریـــغ

## د کرونا د مخنیوي لپاره ښه، خو ناکافي ګامونه

د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره په ټولو سرو او ګرمو سیمو کې ښوونځي، مدرسې، پوهنتونونه، دارالعلومونه ورکتونونه، د سواد زده کړې مرکزونه او نور ټول کورسونه د ۱۳۹۹ کال د حمل تر ۳۰ مې پورې رخصت شوي دي. دا پرېکړه پرون د اطلاعاتو او فرهنګ، پوهنې، لوړو زده کړو او عامې روغتیا وزارتونو په ګډه کمېټه کې شوې ده. دغه راز ټول سپورټي پروګرامونه هم ځنډول شوي دي. له دې سره د عامې روغتیا وزارت وایي، د کرونا ویروس څلور مثبتې نورې پېښې هم ثبت شوې دي.

د حکومت وروستې پرېکړه یوه ښه ګام دی، خو لا هم حکومت پوره او مناسب ګامونه نه دي اخیستي. د دې لپاره چې پوره، مناسب او پر وخت ګامونه واخیستل شي، پکار ده چې څو مهم کارونه وشي. تر ګردو لویه، جدي او مهمه مسئله له ایران سره پر پوله ده. په تېرو څو ورځو کې لسګونه زره افغانان هېواد ته را ستانه شوي دي او هره ورځ زرګونه نور هم را ستنیږي، چې وېره ده په دوی کې به یوه برخه پر کرونا ویروس اخته وي. تر اوسه پورې پر کرونا ویروس اخته ثبت شوي کسان هم له ایران څخه راغلي دي. داسې وېره ده چې دوی به د ایران له سرحد څخه تر خپلو سیمو او کورونو پورې په لاره او نورو ځایونو کې دا ویروس نورو کسانو ته هم لېږدولی وي. تر اوسه پورې په دې چاره کې د حکومت دریځ له بې پروایې ډک و. پکار وه چې له ایران سره سرحد بند شوی وی، خو که دا شونې نه وه، نو بیا غوره دا وه چې په هرات کې په پراخه کچه تدابیر نیول شوي وی. راتلونکي کسان نه یوازې کنټرول شوي وی، بلکې هلته د ټاکلو ورځو لپاره قرنطین شوي وی. له بله اړخه اوس چې دا ناروغي په نورو هېوادونو، په ځانګړې ډول په اروپا او امریکا کې هم عامه شوې، نو هره ورځ له دغو هېوادونو افغانستان ته خلک راځي. دا سمه ده چې په هوایي ډګر کې تیاری شته، خو ستونزه دا ده چې دا تیاری یوازې په کابل هوايي ډګر کې دی. بل دا چې راتلونکي کسان یوازې کنټرول کېږي او تر هغه نه قرنطین کېږي چې د دوی په اړه ډاډ تر لاسه شي.

د دې تر څنګ د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره عامه پوهاوی خورا کمزوری او ناسم دی. لومړی خو په ټولنیزو رسنیو کې داسې لارې چارې وړاندې کېږي چې هغه معیاري نه دي او یا یې له مخنیوي سره کومه اړیکه نه لري. له بله اړخه کره او سم معلومات هم کم دي. پکار ده چې دولتي اداري، د دولتي او خصوصي رسنیو پر مټ د عامه پوهاوي منظم او پیاوړي پلانونه پیل کړي. خلک باید پوه شي چې د کرونا خطر څومره جدي دی، څنګه خوک پرې اخته کېږي، وقایوي تدابیر باید څه ډول وي او له مشکوکو کسانو سره خلک څه ډول چلند وکړي. دغه راز هغوی چې پر خپل ځان شک لري، څنګه کولی شي چې له روغتیایي مرکزونو سره اړیکه ونیسي او ستونزه حل کړي.

دا او دې ته ورته نور کارونه کولی شي د کرونا په مخنیوي کې اغېزمن وي. له دې پرته د کرونا د خپرېدو وېره جدي ده او لرې نه ده چې موږ هم د ایران او نورو هېوادونو پر برخلیک اخته شو.

# چالش های مذاکرات بین الافغانی

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

توافقنامه صلح میان طالبان و امریکا پس از هجده ماه مذاکرات؛ بالآخره به روز شنبه (۱۰ حوت ۱۳۹۸ هـ ش) به امضا رسید. نمایندگانی بیش از ۳۰ کشور و سازمان بین المللی نیز در مراسم امضای توافقنامه در دوحه پایتخت قطر حضور داشتند. توافقنامه را از جانب امریکا؛ زلمی خلیل زاد رئیس هیأت مذاکره کننده و از جانب طالبان؛ ملا عبدالغنی برادر؛ رئیس دفتر طالبان در قطر به امضاء رسانیدند.

برمبنای این توافقنامه تمام نیروهای خارجی الی ۱۴ ماه افغانستان را ترک می کند و از خاک افغانستان بر علیه منافع امریکا و متحدان آن استفاده نمی شود. آتش بس دائمی بر قرار شده و پنج هزار زندانی طالبان از زندان های دولت و یک هزار زندانی دولت از محابس طالبان رها می شوند، و نیز تا کمتر از دو هفته دیگر مذاکرات بین الافغانی در کشور ناروی آغاز می گردد. با امضای توافقنامه میان طالبان و امریکا یک مرحله مهم پروسه صلح افغانستان سپری شد و قرار است مرحله دوم و حساس دیگر آن که مذاکرات بین الافغانی باشد، به زودی آغاز شود که در این تحلیل مورد کنکاش و بررسی قرار می گیرد.

**تشکیل هیأت مذاکره کننده**

با آنکه توافقنامه صلح میان طالبان و امریکا به امضا رسید، دولت افغانستان و جهت های سیاسی زیر چتر دولت تا هنوز موفق به تعیین هیأت مذاکره کننده نشده و کشمکش ها در مورد آن ادامه دارد. هر چند در مورد صلح و چگونگی مذاکرات بین الافغانی طرح های ارائه شده، اما هیچکدام تا حال نتوانسته توافق تمام اطراف را کسب نماید. به نظر می رسد که طرح ایجاد یک شورای نماینده که بهتر است بنام شورای ملی صلح یاد شود، درمیان سائر طرح ها واقع بینانه تر باشد. از میان شورای ملی صلح که تعداد آن می تواند بین ۸۰ تا ۱۰۰ تن از تمام اقشار و گروه های اجتماعی سیاسی به شمول نمایندگان حکومت فعلی افغانستان باشد، یک هیأت مذاکره کننده قوی ۱۰ تا ۱۲ تن، می تواند با مشوره شورای ملی صلح، کار خود را به پیش ببرد. به این ترتیب، از یک طرف اجماع سیاسی ایکه اطراف سیاسی خواهان آن اند؛ تحقق خواهد یافت و از طرف دیگر، تمام جناح هاییکه زیر چتر حکومت فعلی حضور دارند، از یک موضع واحد و معقول با طالبان وارد صحبت خواهند شد. در این صورت از یک طرف مذاکرات با طالبان همه شمول می شود و از جانب دیگر هیأت مذاکره کننده فشرده و مؤثر خواهد بود. این طرح زمانی مؤثر تر خواهد بود که تیم مشورتی ای متخصص، درکنار هیأت مذاکره کننده، تجارب و مشوره های شانرا با این پروسه شریک سازد.

محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور، بعد از ادای مراسم تحلیف ضمن سخنرانی اش گفت که بزودی هیأت مذاکره کننده را که شامل تمام اقشار ملت می باشد؛ معرفی خواهد نمود.

**هدفمندی و جدیت در مذاکرات**

حدود چهل و یک سال می شود که کشور ما افغانستان در آتش جنگ می سوزد. این جنگ به تمام زیرساخت های مادی و ارزش های معنوی کشور ما ضربه محکمی وارد کرده است. میلیون ها کشته و زخمی و مهاجر و معتاد و فساد گسترده زاده این جنگ خانمانسوز به حساب می آید. روزانه ده ها تن از طرفین جنگ و یا هم مردمان ملکی کشته و زخمی می شوند و با گذشت هر روز اقتصاد کشور سیر نزولی خویش را می پیماید. حال فرصت خوبی که برای قطع جنگ و رسیدن به صلح پایدار فراهم آمده است، لازم است که از آن استفاده شود تا باشد تمام بدبختی های ناشی از جنگ برچیده شده، فضای صلح و امنیت در کشور بوجود آید.

هر چند در گذشته ها نیز برای قطع جنگ و آمدن صلح در کشور تلاش های صورت گرفته بود، اما مذاکرات بین الافغانی به دو دلیل از اهمیت ویژه ی بر خوردار است. یکی اینکه در مورد این مذاکرات و رسیدن به صلح تقریباً در سطوح ملی، منطقوی و بین المللی اجماع وجود دارد و دوم هم اینکه تمام جناح های درگیر در قضیه افغانستان شامل بحث هستند و گفتوگو به عنوان یگانه وسیله ی رسیدن به توافق روی چگونگی ساختار نظام آینده، تغیرات در قانون و تعین معادله، تقسیم قدرت در میان جناح های مختلف افغان مورد قبول تمام اطراف قرار گرفته است.

هدف کلان در مذاکرات بین الافغانی باید خاتمه دادن به جنگ جاری و جلوگیری از دوام خون ریزی در کشور باشد. بعد از آن، هدف نخست تمام جهت های افغانی باید اعتماد سازی و دوام تخفیف خشونت تا رسیدن به یک آتش دوامدار در کشور باشد؛ نه قدرت خواهی و فزون طلبی که طی چهل سال گذشته بار بار تجربه گردیده و نتیجه ای جز دوام جنگ و بربادی افغانستان در قبال نداشته است. متعاقباً باید روی تمام موضوعات مورد علاقه اعم از ترتیبات انتقالی، حفظ وتقویت ساختار های ملی، تغیرات در قانون اساسی، حدود آزادی‌ها و حقوق مردم و غیره، یکا یک، حسب اولویت و با حوصله مندی کامل، بحث و مداقه صورت گیرد. ممکن است بحث روی تمام موارد، ماه ها و بیشتر طول بکشد؛ اما طول زمان نباید باعث دلسردی اطراف و قطع مذاکرات گردد. مذاکرات باید تا زمانی ادامه یابد که وثیقه‌ء صلح بین الأفغانی با تمام جزئیات ضروری، ترتیب و به امضاء اطراف مذاکرات برسد.

**چالش های فراروی مذاکرات بین الافغانی**

از فردای امضای توافقنامه صلح میان طالبان و امریکا موضوع رهایی زندانیان سیاسی به یک چالش فراروی مذاکرات بین الافغانی مبدل شده است. شیر محمد عباس ستانکزی عضو هیأت مذاکره کننده گان طالبان گفته است که بر مبنای توافقنامه صلح امریکا مکلف است که پنج هزار زندانی طالبان را در بدل یک هزار زندانی دولت از زندان های افغانستان رها کند. هر چند واکنشی آقای غنی در ابتدا در این رابطه منفی بود، اما به تاریخ ۲۰ حوت فرمان رسمی آزادسازی یک هزار زندانی طالب را صادر نمود. این در حالیست که طالبان تا حال حکومت افغانستان را به رسمیت نشناخته و حاضر به مذاکره، رو در رو، در موارد مورد منازعه با آن نمی باشد.

چالش دیگری که در مسیر مذاکرات بین الافغانی قرار دارد، پراگنده گی در میان حکومت و احزاب سیاسی و سیاسیون مطرح کشور است که این به طور جدی آغاز مذاکرات بین الافغانی را تحت شعاع قرار داده است. این مشکل زمانی شکل جدی تر به خود گرفت که زعمای حکومت وحدت ملی؛ هر کدام به شکل جداگانه به اجرای مراسم تحلیف به عنوان رئیس جمهور جدید به تاریخ ۱۹ حوت پرداختند.

با وجود در مورد صلح اجماع ملی و منطقوی و بین المللی وجود دارد با آنهم عناصری وجود دارند که صلح در کشور را با منافع شان در مطابقت ندانسته و آن را تخریب می نمایند. این حلقات کوشش خواهند نمود به شکل اشکال مذاکرات بین الافغانی را سبوتاژ نمایند.

در افغانستان چیزی را که قدرت مداران به راحتی حاضر نیستند آن را از دست بدهد، همانا کرسی و مقام است که تجربه بارها این امر را به اثبات رسانیده است. یکی از چالش های مستقیم که در پیش روی مذاکرات بین الافغانی قرار دارد، بطور دقیق همین است. از لابیگری های بسا از قدرت مداران و سیاسیون از همین حالا فهمیده می شود که در این مذاکرات بقا در قدرت و یا هم رسیدن به قدرت در نزد آنها اصل است نه آمدن صلح در کشور.

تبدیل شدن تلاش های صلح به میدان رقابت های ملی، منطقوی و بین المللی چالش بزرگ دیگر فراروی مذاکرات بین الافغانی به احتمال زیاد می تواند باشد. چون در عرصه های داخلی، منطقوی و بین المللی تضاد منافع نسبت آمدن صلح در کشور وجود دارد که لازم است طرفداران صلح و هیأت مذاکره کننده در این مورد حساس بوده و با عقلانیت برخورد نمایند.

عدام انعطاف و تنازل جهت های گفتوگو کننده نیز از موانع اصلی برای به نتیجه رساندن مذاکرات است. در این جا حتمی است که جهت ها از صبر و حوصله کار گرفته و روی ساختاری به نتیجه برسند که برای تمام طرف ها قابل قبول باشد.

از همه مهم تر عدم تطبیق درست موادی است که میان طالبان و امریکا به امضاء رسیده و یاهم میان طالبان و اطراف داخلی دیگر، به امضا خواهد رسید.

**نتیجه**

پس از چهار دهه جنگ، اکنون فرصت طلایی ای برای آوردن صلح در کشور میسر شده است. اجماع منطقوی و بین المللی در مورد قیام صلح در افغانستان به وجود آمده و همه جناح های داخلی نیز، گفتوگو و مذاکره را راه حل تمام مشکلات می دانند.

حال به زیرکی و هشیاری افغان ها بسته گی دارد که چگونه می توانند از فرصت پیش آمده برای ختم جنگ و آوردن صلح در کشور طوری استفاده نمایند تا دیگر هیچ فرصتی برای تداوم جنگ در کشور باقی نماند. اگر جنگ جاری سال ها ادامه یابد؛ سرانجام، اطراف متخاصم روی میز مذاکره نشسته و راه حلی را بیرون خواهند آورد.

پس چه خوب است که فرصت موجود ضایع نساخته و عمر جنگ و تباهی را در کشور کوتاه سازیم.

# نېکولاس کې: سیاسیون دې ژر تر ژره په افغانستان کې روان ناورین پای ته ورسوي


په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې ویلي، ولسمشریزو ټاکنو او د لوړې مراسمو افغانستان له سیاسي بحران سره مخ کړی دی.

نېکولاس کې په یوه لنډ ویډیويي پیغام کې ویلي، نړۍ د کرونا ویروس له بحران سره مخ کړې، خو په همدې شکل په افغانستان کې سیاسي بحران روان دی.

هغه زیاته کړې، دا د حیرانۍ خبره ده چې افغان سیاسي مشران د خپلو اختلافونو ختمولو لپاره یوه حللار نه شي موندلای.

کې ویلي: «په افغانستان کې سیاسي بحران دی او دا ډېره د حیرانۍ وړ خبره ده چې سیاسي رهبري دې ته حللاره نه شي پیدا کولای چې څنګه اختلافات له منځه یوسي او هېواد یو موټی کړي، دوی باید د روغتیا او سولې په برخه کې کار وکړي، زه پر دواړو خواوو غږ کوم چې خپلو سیاسي اختلافاتو ته د حل لاره پیدا کړي.»

د ناټو ملکي استازی داسې مهال پر افغان سیاسیونو د یووالي غږ کوي چې لا هم ولسمشر محمد اشرف غني نه دی توانېدلی چې ډاکټر عبدالله عبدالله



قانع کړي، څو د ټول شموله حکومت په نوم د موازي اداري له جوړېدو لاس واخلي.

خو ارګ ویلي، دوی د ټولو ستونزو حل په خبرو کې وینې. د ولسمشر غني د وياند مرستیال دواخان مینه‌پال ویلي، دوی د ستونزې د حل لپاره د خبرو وړاندیز کوي.

هغه ویلي: «زموږ غوښتنه دا ده چې ټولې ستونزې باید د خبرو اترو او مذاکراتو له لارې حل شي، هېڅ داسې ستونزه نشته چې حللار ونه لري، ولې د ټولو ستونزو د حل لار مذاکرات او خبرې اترې دي، له همدې کبله موږ پر ټولو اړخونو غږ کوو چې ستونزې د خبرو له لارې حل کړي.»

په ورته وخت کې ځینو افغان سیاسیونو بیا تېره ورځ د کریم خلیلي په کور کې پر سولې او روان سیاسي کړکېچ بحث کړی دی.

په دې غونډه کې مخکیني ولسمشر حامد کرزي، عبدالله عبدالله، ګلبدین حکمتیار، کریم خلیلي، محمد محقق، انوارالحق احدي، صلاح الدین رباني، سید حامد ګیلاني او ځینو نورو ګډون کړی و.

منبع: د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګه

## پروفیسور لاري رومانوف:
# ایا ناول کرونا لومړی په امریکا کې رامنځ ته شو؟

پروفیسور لاري رومانوف په دې وروستیو کې یوه لیکنه خپره کړه او لیکلي یې دي چې د ناول کرونا ویروس له پیښېدو وروسته، د لوېدیځو هیوادونو خبري رسنیو تر ډېره داسې راپورونه ورکړل چې دغه ویروس د چین د ووهان ښار په بازار کې رامنځ ته او خپور شو. خو حقیقت دا دی چې تر اوسه پورې د دغه ویروس سرچینه لاهم معلومه نه ده. مګر د جاپان د خبرونو له مخې، د دغه ویروس سرچینې ښايي یوازې یوه او یا یو ځای نه وي. تر ټولو مهمه دا ده چې د جاپان او نورو هیوادونو د ځینو خبرونو له مخې، دغه ویروس ښايي لومړی په امریکا کې رامنځ ته شوی وي.

د جاپان د اشاهي ټلویزیون په فبروری کې خبر ورکړی و چې د ناول ویروس اصلي ځای او سرچینه ښايي امریکا وي او په امریکا کې د هغو ۱۴۰۰۰ ناروغانو مړینې چې وایي لاملونه یې عادي او عامه انفلوینزا وه، دا شک کیږي چې ځینې کسان یې پر ناول کرونا ویروس باندې اخته شوي اوسي.

د امریکا د ناروغیو د کنټرول او وقایې مرکز د تیرې میاشتې په ۱۴مه اعلان وکړ، چې دوی به په لاس انجلیس، سان فرانسیسکو، سیټل، شیکاګو او نیویارک کې د اړوندو ناروغانو په اړه د ناول کرونا ویروس پلټنه وکړي. مګر یاد جاپاني ټلویزیون دې ته اشاره وکړه چې که امریکا د پلټنو نتیجه خپره نه کړي، نو هېڅوک به د ځینو مړو شویو ناروغانو په لامل پوه نه شي.

پروفیسور رومانوف په خپله لیکنه کې د دې یادونه هم کړې ده چې د تایوان مشهور کارپوه د تیرې میاشتې په ۲۷مه په یوه ټلویزیوني مرکه کې هم داسې ویلي وو، چې هغه د دغه ویروس د سرچینې په اړه اوږده موده پلټنه کړې ده. په تایوان کې د کرونا ویروس موډلونه یوازې په استرالیا او امریکا کې شته. په تایوان کې هیڅ ناروغ د استرالیایانو له امله پر دې ناروغۍ نه دی اخته شوی، نو ویل کیږي چې د تایوان د ناروغۍ سرچینه امریکا ده.

پروفیسور رومانوف په خپله لیکنه کې یوه بېلګه وړاندې کړې چې د فبروری په ۲۶مه د امریکا (KJCT8) خبري ویبپاڼې خبر ورکړ چې د کلرادو ایالت د مونټروز ښار اوسېدونکې Almeta Stone ویلي، چې د دې خور د ناول کرونا ویروس له امله مړه شوې ده، خو له تایید مخکې ډاکټر پر دې ټینګار کولو چې هغه د عادي او عامې انفلوینزا له امله مړه شوې ده. تر اوسه معلومه نه ده چې په امریکا کې دغسې پېښې څومره دي.

# د حکومت بې پروايي او کرونا؛
## د هرات والي: که د حکومت بې پروايي دوام وکړي، ستر ناورین به رامنځ ته شي



د جنوبي ولایتونو چارواکي وایي چې مرکزي حکومت باید د کرونا د مخنیوي لپاره جدي اقدامات تر سره کړي. تازه په هېواد کې د کرونا د نړیوالي وبا مثبتې پېښې ۱۱ ته رسېدلي دي. له دې سره هممهاله حکومت د ټولو دولتي او خصوصي تحصیلي او تعلیمي موسسو د ترلو امر کړی دی او وایي چې د کرونا ویروس د پراختیا د مخنیوي لپاره یې دغه اقدام کړی دی. همدا راز د بدني روزنې او سپورت ریاست هم د سپورتي لوبو او مراسمو د ځنډولو خبر ورکړی دی.

پرون په هرات کې د کرونا یوه بله پېښه هم مثبته راووته او په دې توګه په افغانستان کې پر کرونا ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۱۱ ته ورسېد. د عامې روغتیا وزارت وایي چې دوی تر خپلې وسې د دغه ویروس د مخنیوي لپاره هڅه کوي. د دغه وزارت چارواکو ویلي چې د روغتیا نړیوال سازمان په همکارۍ، دوی د پنځوسو زرو کسانو لپاره د کرونا ویروس د ازموینې کېټونه لري. یاد بنسټ بیا دا هم وایي چې اوسنی وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی. د سرچینې په خبره، دوی د کرونا ویروس د پراختیا د مخنیوي په اړه احتمالي اقدامات او راتلونکي طرحې له حکومت او روغتیایي همکارانو سره شریکې کړې څو مرستې او همکارۍ جلب کړي. د عامې روغتیا وزارت دا خبرداری هم ورکوي چې که کرونا ویروس په هېواد کې خپور شو، نو مخنیوی به یې ګران کار وي.

له دې سره هممهاله د عامې روغتیا وزارت کارکوونکي وایي چې په هرات، سمنګان، بلخ او کاپیسا کې د کرونا ویروس ۱۱ مثبتې پېښې ثبت شوې دي. د عامې روغتیا وزارت کارکوونکي دا هم وایي چې تر دې دمه ۱۸۱ مشکوک موارد د دوی لابراتوارونو ته لېږل شوي دي چې له دې ډلې هغه یوولس یې مثبتې او پاتې نورې پېښې منفي وې. د دې تر څنګ، چارواکي دا هم وایي چې ۵۲ مورده نور دوی ته ورول شوي دي، خو تر اوسه تر معایناتو لاندې دي او معلومات به یې وروسته له رسنیو سره شریک کړي.

په ورته وخت کې د هرات والي عبدالقیوم رحیمي بیا وایي، چې د بودجې د نشتوالي او مرکزي حکومت د بې پروايي له امله په هرات کې د یوه ستر ناورین د رامنځ ته کېدو احتمال شته دی. نومړي زیاتوي: «زه له هغه ورځې ډارېږم چې خدای مه کړه داسې نه شي بیا مړي راټول نه کړی شو، که نن لاس پکار نه شو، نو حتماً داسې ورځ راتلونکې ده.»

له دې سره هممهاله ولسمشري مانۍ د راتلونکي کال د وري یا حمل تر ۳۰مې پورې ټول تعلیمي او تحصیلي بنسټونه رخصت کړي دي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوي خبرپاڼه کې راغلي چې دغه پرېکړه یې د کرونا ویروس د پراختیا د مخنیوي په موخه کړې ده. د سرچینې په خبره، دا نېټه کره نه ده او کېدای شي د وضعیت له تغیر سره سم دوی د مکتبو په رخصتېدو او بېرته پیلېدو له سره کتنه وکړي. ولسمشری مانۍ همدا راز اړوندو ادارو ته هم لارښوونه کړې چې د دغه ویروس د مخنیوي په برخه کې اړین اقدامات وکړي.

د سپورت او بدني روزنې ریاست بیا ټولې لوبې او سپورتي محافل لغوه کړي دي. بلخوا د عامې روغتیا وزارت بیا ویلي چې دوی د ودونو د تالارونو، ورکتونونو، کنفرانسونو، حمامونو او نورو ورته ځایونو د ترلو لپاره یې هم واندیز کړی دی او ژر به یې په اړه اقدام وکړي.

د کرونا ویروس پر وړاندې د مبارزې په اړه حکومت داسې مهال بې پروا بلل کېږي چې ولسمشر د دغه پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره د ۲۵ میلیونو ډالرو د ځانګړي کولو خبره وکړه. عامې روغتیا وزارت وایي چې اووه میلیونه ډالر په واک کې ورکړل شوي او د پاتې پیسو اداري مراحل په چټکۍ پر مخ روان دي.

# ګوتریش: نړۍ باید د وېرې پر ځای د کرونا ویروس د کنټرول او مخنیوي لپاره هڅې چټکې کړي



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش ویلي، چې نړۍ باید د کرونا ویروس د کنټرول او مخنیوي لپاره هڅې لا چټکې کړي.

نوموړي دغه راز ویلي چې د کرونا ویروس له کبله د وحشت له خپرېدو دې ډډه وشي او اړینه ده چې په دې برخه کې ټولې نړیوالې هڅې سره همغږې شي.

دا په داسې حال کې ده چې کرونا ویروس اوسمهال په ډېرې چټکۍ سره نږدې ټولې نړۍ ته خپور شوی او په زرګونو کسان یې وژلي دي.

په ورته وخت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم د دغه ویروس په پېښېدو کې د زیاتوالي له کبله په ټوله امریکا کې بېړنۍ حالت اعلان کړ. ټرمپ ویلي چې له کرونا ویروس څخه د امریکایانو خوندي ساتلو لپاره به ۵۰ میلیارده ډالر بېلابېلو ایالتونو ته ورکړي. هغه همدارنګه د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره دغه هېواد ته د ورتګ ۳۰ ورځنی بندیز اعلان کړی. ټرمپ دغه راز ویلي چې اروپایي ټولنې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره احتیاطي ګامونه نه دي اخیستي، خو د اروپایي ټولنې مشران دا خبره ردوي. د اروپایي کمېسیون ویاند ایرک مامر د ټرمپ دا پرېکړه یو اړخیزه بللې.

دا په داسې حال کې ده چې د روغتیا نړیوال سازمان د تازه معلوماتو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۵ زره او ۸۱۰ تنو ته رسېدلی دی. د دغه سازمان په خبره، تر اوسه په ټوله نړۍ کې د دې ناوړه ناروغۍ له امله ۵۴۳۶ کسان مړه شوي او ۷۲۵۳۱ نور بیا تر تداوي وروسته رغېدلي دي. د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو پر بنسټ، پر کرونا د اخته کسانو له ډلې ۶ زره او ۸۲ کسانو روغتیایي وضعیت نازک ښودل شوی دی.

د یادونې ده چې کرونا ویروس په لومړي ځل د چین له ووهان ښار څخه خپور شو چې اوس د امریکا او اروپا په ګډون، د نړۍ نږدې ۱۲۰ هېوادونو ته رسېدلی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ ليکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: ميراحمد ياد

۷
## ميداس لمس به څنګه جوړوو؟




د هغوی دوو ډلو ترمنځ لوی توپير دی چې يوه په سرو زرو پسې ځي او بله د سرو زرو په قانون پسې.

| څوک چې په سرو زرو پسې ځي | څوک چې په زرين قانون پسې ځي |
|---|---|
| پوښتنه کوي چې زه ستاسو لپاره څه کولای شم؟ | پوښتنه کوي چې زما لپاره څه کولای شئ؟ |
| دوی با کرکټره پرېکړې وي. | دوی اسانه پرېکړې کوي. |
| دوی پيسې له کورنۍ ځاروي. | دوی کورنۍ له پيسو ځاروي. |
| دوی خپلو کارونو ته منطق پيدا کوي. | دوی خپلو کارونو ته اړيکې جوړوي. |
| دوی وايي چې لومړی دې نور وي. | دوی وايي چې لومړی دې زه يم. |
| دوی خپل ملګري شمېري. | دوی خپلې پيسې شمېري. |
| د دوی شتمني د ارزښتونو پر اساس وي. | د دوی ارزښتونه د شتمنۍ پر اساس وي. |

که تاسو داسې څوک وګورئ چې ټول عمر په زرين قانون پسې تللی وي، نو دا تګ په دې توګه احساسولای شئ چې له خلکو سره څنګه چلن کوي او پخپله څنګه ژوند کوي. ما چې هوارډ بوين وليد، نو حقيقت همدا و. دا مې بيا ښه ملګری شو. هوارډ د مارټ مغازو د جوړونې مسئول و. دا زنځيري هغه وخت د بريا په څوکو کې وې او ده نورې هم بريالۍ کړې.
زه فکر کوم انسان په دوو لارو يو شی ترلاسه کولای شي، يا به په سره زرو پسې ځي، يا په زرين قانون پسې.
دا لاره او مزل دومره اسانه نه وو. هوارډ چې له مارټ مغازې سره لومړی قرارداد کار کاوه، نو فلوريډا ته لاړ چې ځمکه ورته وګوري. دی چې د شرکت له دوو استازو سره وګرځېده، نو د يوه مشر بد شخصيت درلود. ده ته يې وويل چې د نڅا کلب ته به لاړ شو. په دې وخت کې هوارډ په اخلاقي دوه لارې ودرېده چې د چا ومني.
ده چې کومه سودا کوله، نږدې( ۴۹ )ميليونه ډالره ارزښت يې درلود او پر دې هم پوهېده چې که له دې سړي سره کلب ته لاړ نه شي، نو دا لوی قرارداد يې له ګوتو ايستلای شي. خو هاورډ پر زرين قانون باور درلود او پوهېده چې د نڅا کلب ته تګ به يې پر خپلې مېرمنې ظلم وي.
بلاخره يې زړه وکړ. ټيم چې تر کار وروسته بېرته هوټل ته ستنېده، ده ورته وويل:((ببښنه غواړم، زه نه شم درسره تللی، ځکه ستړی يم او خوب راځي.))
دوی چې د هوټل له دروازې وتل، هاورډ له موټره ښکته شو. بل کس چې له دوی سره روان و، هغه هم ورته وويل:((زه هم ډېر ستړی يم، خوب راځي.)) هغه هم له موټر ښکته شو، ورپسې بل هم ښکته شو. بلاخره په هغه شپه هېڅوک کلب ته لاړ نه شو. کوم مشر چې دا غوښتنه کړې وه، هغه هاورډ ته وويل:((ته نه پوهېږې چې زه دې څومره درناوی کوم.)) او بيا يې هاورډ ته قرارداد هم ورکړ. کوم انسان چې خپله رښتينولي ساتي، تل داسې ښه ورسره کېږي؟ نه تل نه کېږي! خو که هاورډ په خپلو اخلاقو سترګې پټې کړې وای، کلپ ته تللی وای او بيا يې هم قرارداد له ګوتو وتلی وای، نو؟ بيا به يې نه امتياز نه درلود او نه په خپل نظر کې خپل درناوی.
هاورډ بايد د خپل کاري شخصيت په پيل کې ډېرې زياتې سختې پرېکړې کړې وای. مثلاً يوه ورځ د اوسپنې يوه تمويلوونکي ترې وغوښتل چې پيسې تر کار خلاصېدو مخکې ورکړي، ځکه د پيسو ستونزه يې درلوده. دا کار زياتره وخت خطرناک وي؛ خو هاورډ له ځانه وپوښتل:(( په داسې حالت کې بايد له ما سره څه ډول چلن وشي؟)) هغه پرېکړه وکړه چې همدا کار سم دی او هغه قراردادي ته يې پيسې ورکړې. په وروسته کلو کې بيا دوی تر ډېره ګډ کار وکړ.
جالبه دا ده چې يوه لسيزه وروسته هاورډ خپل کور جوړاوه. د دې لپاره يې اوسپنې ته اړتيا شوه. په دې وخت کې کاروبارونه ډېر په کش کې وو، هر څوک په لويو پروژو اخته وو او د هاورډ د کور په شان کوچنيو پروژو ته يې وخت نه درلود؛ خو د ده پخواني قراردادي ملګري دستي خپل کار بس کړ او د ده مرستې ته يې متې را بډوهلې. هغه هاورډ ته وويل:((لومړی کار مې چې درته کړی و، هغه دې ياد دی؟ ما پيسې نه درلودې او تا د پيسو مرسته راسره وکړه، نن زه خوښ يم چې تا ته هم يو څه کولای شم.))
هارورډ د هغه شي په اړه بيا په لسو کلو کې فکر ونه کړ. هغه وخت چې څه ورته ښکارېدل همغه يې وکړل؛ خو د زرين قانون پر اساس ژوند کولو کې همدا لويه ښېګڼه ده. کوم خلک چې په سرو زرو پسې ځي، که بختور وي، نو لږ سره زر به ومومي. خو څوک چې په زرين قانون پسې ځي، هغوی پيسې هم ګټي او داسې ګټې هم ترلاسه کوي چې په پيسو نه اخيستل کېږي. څوک چې په زرين قانون ژوند کوي، ځان ته د دې ټولو شيانو د درلودو فرصت ورکوي!

**پــای**

# قلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حميدالله حميدي




قلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ خپلې چارې په ۱۳۹۴ لمريز کال کې د دوو پوهنځيو شرعياتو او ادارې او ډيپلوماسۍ په درلودلو سره په رسمي ډول پيل کړې دي. د لوړو زده کړو د دې موسسې مؤسس او مشر پوهاند ګل الرحمن قاضي وايي، تر اوسه همدا دوه پوهنځي لري، ځکه د نوموړي په خبره، د ولسمشر په امر لوړو زده کړو وزارت په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې د نويو پوهنځيو تاسيس، د ماسترۍ پروګرام پيلول او يا هم د نويو خصوصي پوهنتونونو ايجادول ځنډولي دي. دی وايي، تر اوسه پورې همدا دوه پوهنځي لري، خو که اجازه ورکړل شي نوي پوهنځي به تاسيس کړي او په يادو فعالو پوهنځيو کې به د ډيپارټمنټونو شمېر هم زيات کړي.
په قلم د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال د ۱۱۰۰ په شاوخوا کې محصلين پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې له ډلې يې شپېته سلنه ښځينه او پاتې ځلوېښت سلنه نارينه محصلين دي. ښاغلی ګل الرحمن قاضي وايي، تر اوسه پورې يې د ۳۰۰ په شاوخوا کې محصلين د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. د نوموړي په خبره، په نږدې ورځو کې به ۳۰۰ نور محصلين هم فارغ کړي او د نورو دورو په پرتله يې سږ کال د فارغانو شمېر زيات دی. ښاغلی قاضي وايي، دا چې دوی محصلينو ته د لوړو زده کړو وزارت له معيارونو سره سم تدريس کوي او نور هغه امکانات چې يو پوهنتون يې بايد ولري، برابر کړي، نو ډېری فارغ شوي محصلين يې په دولتي او غير دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي او يا هم په کور د ننه او بهر کې لا نورې لوړې زده کړې کوي.
د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدريس چارې د ٦٥ متخصصو او تجربه لرونکو استاداتو له خوا مخ ته وړل کېږي. د دې موسسې مشر وايي چې په استادانو کې يې دايمي او قراردادي استادان دواړه شامل دي. دی وايي، ۲۵ استادان يې دايمي او پاتې نور قراردادي دي. پوهاند ګل الرحمن قاضي وايي چې اتيا سلنه استادان يې نارينه او پاتې يې ښځينه دي. هغه زياتوي، هڅه يې کړې ده چې پر کارپوه، متخصص او د تدريس په چارو کې تجربه لرونکي استادان پر دندو وګوماري، څو مسلکي محصلين فارغ کړي او په اړونده برخه کې ګټور ثابت شي.
قلم د لوړو زده کړو موسسه په کور د ننه له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړيکې لري، خو په دې برخه کې يې تر اوسه له کوم پوهنتون سره د رسمي علمي اړيکو هوکړه نه ده لاسليک کړې. پوهاند ګل الرحمن قاضي وايي چې د حامد کرزي له بنسټ سره هوکړه لري چې له مخې يې د دوی ځينې محصلين بهر ته د لا نورو لوړو زده کړو لپاره استوي. پوهاند قاضي وايي، ترکيې او هند ته يې هم سفرونه درلودل څو هلته له ځينو پوهنتونونو سره د علمي اړيکو هوکړې لاسليک کړي. هغه وايي، په دې برخه کې پرمختګونه شوي دي، خو په رسمي ډول يې تر اوسه پورې له کوم بهرني پوهنتون سره هوکړه نه ده لاسليک کړې.
پوهاند ګل الرحمن قاضي مطالعه مهمه او په پوهنتون کې د کتابتون موجوديت ضروري بولي. دی وايي چې قلم د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلينو او استادانو لپاره يو مجهز کتابتون جوړ کړی، چې د بېلابېلو برخو اړوند يې پکې ۳۰۰۰ ټوکه کتابونه ځای پر ځای کړي دي او د لا غني کولو لپاره به يې هڅه کوي. دی وايي چې د پوهنځيو اړوند او نور ګټور کتابونه يې په کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي چې محصلين او استادان يې کولای شي وخت ناوخت له دغه کتابتون څخه ګټه واخلي. دې موسسې خپلو محصلينو ته ۲۴ ساعته د انټرنېټ اسانتيا هم برابره کړې ده چې محصلين کولای شي له کمپيوټر لب څخه چې په انټرنېټ سمبال دی، ګټه واخلي. د دې تر څنګ، قلم د لوړو زده کړو موسسه وخت ناوخت خپلو محصلينو ته ورکشاپونه او سمينارونه دايروي او د دې کار لپاره يې د کنفرانس مجهزه خونه جوړه کړې ده چې نور پوهنتونونه، ادارې او بنسټونه هم کله کله د دوی له کنفرانس خونې څخه ګټه اخلي.
قلم د لوړو زده کړو موسسه د خپل کانکور د اول نمره لپاره فول سکالرشيف ورکوي، د سمیسټر د اول نمره لپاره پنځوس سلنه تخفيف او که چېرته خپله اول نمرګي وساتي، تر اخره ورته همدا پنځوس سلنه تخفيف ورکوي. که له کوم بنسټ سره هوکړه ولري، د هوکړې له مخې ورته مناسب تخفيف ورکوي، د بېوزله کورنيو د محصلينو لپاره هم تخفيف لري. د دې تر څنګ، په مشخص ډول د حامد کرزي له بنسټ سره هوکړه لري. هغه محصلين چې د دغه بنسټ له لوري دوی ته ورپېژندل کېږي تخفيف ورکوي، ځکه په مقابل کې يې بيا د دوی فارغ شوي محصلين د ياد بنسټ له لوري د لا نورو لوړو زده کړو لپاره بهر ته استول کېږي.
ښاغلی پوهاند ګل الرحمن قاضي مني چې د خصوصي پوهنتونونو فارغ شويو محصلينو ته پر وخت تحصيلي اسنادونه نه ورکول کېږي، خو نوموړی وايي چې اداره يې پر وخت د فارغ شوي محصل اسنادونه لوړو زده کړو وزارت ته سپاري، خو دا چې په وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو د رياست د کار کوونکو شمېر کم او د خصوصي پوهنتونونو شمېر زيات دی، نو د اسنادونو ارزول هرو مرو وخت نيسي.
ښاغلی قاضي وايي چې خصوصي او دولتي پوهنتونونه په خپل منځ کې هېڅ توپير نه لري، ځکه دی خپله د کابل پوهنتون استاد پاتې شوی او اوس چې خپله د لوړو زده کړو خصوصي موسسه لري، ټول هغه مقررات او قوانين چې د لوړو زده کړو وزات له لوري دوی ته ټاکل شوي دي، عملي کوي يې او په خصوصي پوهنتونونو کې هم ډېری هغه استادان د تدريس چارې مخ ته وړي، چې په دولتي پوهنتونونو کې رسمي دندې لري.
د قلم د لوړو زده کړو موسسې مشر وايي، د پوهنځيو ډېرول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسترۍ پروګرام پيلول او د سيمې په کچه اعتبار پيدا کول يې راتلونکي پلانونه دي. دی وايي، له لومړي سره يې موخه د افغانستان خلکو په ځانګړې ډول ځواني طبقې ته خدمت کول او د لوړو زده کړو زمينې برابرول دي، نو په دې برخه کې به کار او پرمختګ کوي. پوهاند ګل الرحمن قاضي له افغان حکومت او لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو ودې او پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه وکړي، څو دغه پوهنتونونه چې په افغانستان کې يوه نوې تجربه ده، پر خپلو پښو ودرېږي.
د قلم د لوړو زده کړو موسسې مشر پوهاند ګل الرحمن قاضي وايي، لومړنۍ ستونزه يې د زياتې ماليې ورکول دي. دی وايي، د محصلينو او پوهنځيو شمېر يې کم دی، خو په ډېره لوړه کچه ماليه ورکوي چې دغه څه د دوی د پرمختګ په مخ کې خنډ دي. دی وايي، مخکې مې هم وويل چې د خصوصي پوهنتونونو ايجاد په افغانستان کې نوې تجربه ده چې بايد مرسته ور سره وشي، لاسنيوی يې وشي څو په خپلو پښو ودرېږي. د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت بايد دولتي او خصوصي دواړو پوهنتونونو ته په متوازن ډول د پرمختګ زمينه برابره کړي او هغه امکانات چې د دولتي پوهنتونونو په واک کې يې ورکوي، د خصوصي پوهنتونونو په واک کې يې هم ورکړي. پوهاند قاضي وايي چې په وار وار د لوړو زده کړو وزارت له خوا ور سره ژمنې شوې دي، خو عملي شوې نه دي. د خصوصي پوهنتونونو مؤسسين په دې اند دي چې خصوصي پوهنتونونه هم د هېواد بچيان روزي او د علم په ګاڼه سمبال خلک ټولنې ته وړاندې کوي، نو ښايي چې په هر اړخيزه توګه ور سره مرسته وشي. دايمي ځايونه ورکړي، ماليه يې راکمه شي، د متوازن پرمختګ زمينه ورته برابره شي او د برېښنا ستونزه يې حل شي.

همیانۍ

# ایا موخې مو خپلې دي؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

«هر کله چې فکر کوئ، باوري اوسئ چې دا ستاسې خپل فکر دی؛ هرڅه چې غواړئ، باوري اوسئ چې دا ستاسې خپله غوښتنه ده؛ هر څنګه احساس چې کوئ، باوري اوسئ چې دا ستاسې خپل احساس دی.» تي. اس. الیوت

پلار یې غوښتل هرڅنګه چې وي هغه باید پولیس شي، پلار یې د هغه کوچني ښار د پولیسو رییس و چې هملته زیږېدلی و. مور یې بیا بېل نظر درلود، هغې غوښتل چې زوی یې نجار شي. مور یې فکر کاوه چې د زوی یې چنداني درس نه زده کېږي، نو ښه ده چې هغه د درس ویلو پر ځای یو بل کسب زده کړي. ارنولد یې د مور له غوښتنې سره سم، د دبیرستان د زده کړو تر څنګ، د نجارۍ اړوند په یو پروګرام کې هم ګډون کاوه، خو له دې کار سره یې هېڅ مینه نه وه.

دا دې چا موخه ده؟

ډېری ځوانان چې کله نوي ځوانۍ ته رسېږي، هغه چاپېریال او خلکو ته ورته کېږي چې پکې رالوی او ورسره لوی شوي دي. دوی نه پوهېږي چې د کوم کار په کولو کې له خپلو وړتیاوو ښه استفاده کولای شي. هغوی اصلاً پر دې نه پوهېږي چې کوم کار وکړي. هماغه دي چې دوی بیا د خپل مور او پلار او ملګرو خبرو ته غوږ نیسي او بیا پر هماغه لوري حرکت کوي چې هغه د نورو موخې او هیلې پالي. دا نه دي دوی هیلې دي او نه هم دوی په دې اړه کوم فکر کوي. اولادونه په لومړیو کې له خپل مور او پلار او هغه چاپېریال څخه الګو اخلي، چې دوی پکې اوسېږي. هغوی دا وخت کومه بله منبع نه لري چې دوی ترې اغېزمن شي.

سیسیل آزبورن په «د ځان د درک هنر» کتاب کې لیکي: «وړوکي او کم عمره ماشومان د خپل ځان په اړه روښانه لید نه لري، هغوی خپل ځان د مور او پلار د ارزونې په هنداره کې ګوري. هغه ماشوم ته چې په وار وار داسې خبرې کېږي چې ته بد هلک یې، تنبل یې، بې عقل یې، بې شرمه یې، خجالت نه وباسې، بې لاس او بې پښویې؛ بالاخره هغه هماغسې لوېږي څنګه چې تاسې ورته خطاب کوی.» له

ډېری ځوانانو خپل ځان ورک وي، هغوی پر هېڅ نه پوهېږي، رښتیا اصلاً دوی نه پوهېږي چې څوک دي او څېرته غواړي چې لاړ شي. هغوی د دې لپاره چې نور یې په حق کې د رد او تایید ټاپه ووهي، د هغوی پر غوره شوو لارو حرکت کوي او د هغوی د موخو او هیلو تابعیت کوي.

«هرکله چې د یو کار او کسب په منځ کې د یو چا فکر بدلېږي، باوري اوسئ چې تر اوسه یې د نورو کسانو د موخو لپاره کار کاوه او خپله لار ترې ورکه وه.»

څومره کسان به د خپل مور او پلار په غوښتنو پوهنتونونو ته ځي؟ څومره کسانو به د دې لپاره چې مور یې ورځخه خپه نه شي، د هغې په خوښه ودونه کړي وي؟ څومره کسانو به د یو خیالي فیلم په لیدو سره د ځان لپاره هماغسې انتخاب کړی وي؟ کله چې د یو کار او کسب په منځ کې د یو چا فکر بدلون کاوه، پوه شی چې هغوی تر اوسه د نورو د موخو لپاره کار کاوه او خپله لار ترې ورکه وه.

حتی ډېر زړه سواندي مور او پلار هم د خپلو اولادونو په حق کې همدا تېروتنه کوي. زه دا هرڅه د سر په سترګو منم، ځکه په اووه کلنۍ کې له ما سره هم همداسې شوي دي. مور او پلار مې داسې انګېرله چې زه د موسیقۍ په زده کولو کې ښه وړتیا لرم، ما ته یې پیانو اخیستې وه او د موسیقۍ په ټولګي کې یې راته نوملیکنه کړې وه. څو کاله مې د پیانو له زده کړې ښه خوند اخیست، خو یوازې د مور او پلارد خوشالۍ په خاطر مې دا کار کاوه. مور او پلار مې داسې فکر کاوه چې زه د موسیقۍ په اړه پر ډېر څه پوهېږم، کله چې پنځم ټولګي ته لاړم، ټرومپت(د موسیقۍ یوه آله) یې راته واخیست. دا وخت مې ښوونکي مور او پلار ته وویل چې ستاسې زوی د ټرومپت زده کړې ته نه دی جوړ، همدا سبب و چې بالاخره یې راته کلارنیت(د موسیقۍ آله) واخیست. زموږ د اوسېدو په سیمه کې د کلارنیت مشهور غږوونکي سیرکل چې خلکو د تام تد لویس په نوم پېژانده، ژوند کاوه. ملګرو به مې راته ویل چې کېدای شي ته هم یوه ورځ تام تد لویس شې. ما ته به دا خبره له واقعیته ډېره لرې ښکارېده، ځکه د اصولو صنفي پر مهال مې دومره وړتیا نه درلوده، چې د کتار شوو څوکیو تر مخ له اکستر ډلې سره یو ځای کېنم. د کلارنیت په ټولګي تر ټولو تنبل زده کوونکی زه وم، ان له هغه وخته مې زړه غوښتل چې باسکېټبال زده کړم. بالاخره مې مور او پلار ته وویل چې زه له موسیقۍ سره مینه نه لرم، غواړم چې ورزشکار شم. کله چې دوی د یوه موسیقي پوه په حیث زما له جوړېدو تېر شول، رښتیا چې هغه وخت زه ډېر خوشاله شوم. ما هم نوره د کلارنیت زده کړه پرېښوده او باسکېټبال مې شروع کړ.

ارنولد نه پوهېده چې څه کول غواړي، خو پر دې باوري و چې پولیس او نجار جوړېدل یې نه خوښېږي. هغه د خپل ځان لپاره یو پلان درلود، هغه یوازې همدومره پوهېده چې په دې دنیا کې هر کار چې کوي، باید چې ښه یې وکړي. هغه له ورزش سره مینه درلوده، خو د نوي ځوانۍ پر مهال یې دا مینه نه وه پیدا کړې. هغه پر له پسې بېلابېل ورزشونه وکړل، سوک وهنه یې وکړه، پهلواني یې وکړه، د بدن ښکلا ورزش یې وکړ او حتی داسې چې پنځه کاله یې فوټبال هم وکړ؛ خو بیا یې هم چنداني ښه پایله ورنه کړه. بالاخره یوه ورځ د فوټبال ټیم روزونکي له ټولو لوبغاړو وغوښتل چې د خپلو عضلاتو د قوي کولو لپاره په اونۍ کې یوه ورځ د وزن پورته کولو تمرین شروع کړي. دا په رښتیا هغه وخت و چې د ارنولد اصلي موخه هم پکې معلومه شوه.

ارنولد وايي: «کله چې په اوله ورځ د بدن ښکلا ورزش سالون ته لاړم، هېڅ وخت به مې هغه خاطره له یاده ونه وځي، ما له دې مخکې هېڅ وخت نه وو لیدلي چې وزن څنګه ښکته او پورته کېږي. هغه ورزشکاران چې په هغه سالون کې به یې وزن پورته کاوه، ډېر قوي او پیاوړي راته ښکارېدل، ما هماغه ورځ هغه څه پیدا کړل چې غوښتل مې.»

ارنولد په څوارلس کلنۍ کې په هماغه سالون کې خپل ایډیال پیدا کړ. کله یې چې څو اونۍ وروسته په ویترین ورځپاڼه پلورنځي کې د ورزش مجله ولیده، لا یې ورته خپله موخه ښه واضح او څرګنده شوه. د مجلې پر مخ د هغه باډي بیلډر عکس چاپ و چې په هرکول فیلم کې یې کار کړی و. د ارنولد له دې وروسته هر څه ډېر ښه په ذهن کې پاتې دي. هغه وايي: «مجله مې واخیسته او له لوستو وروسته یې پوه شوم، چې هرکول د رګ پارک په نوم یو انګلیس کس دی. هغه د بدن ښکلا په سیالیو کې د نړۍ لومړی مقام ګټلی و او له هغه وروسته یې په سینما کې کار پیل کړی و. هغه له دې لارې د ګټلو پیسو په بدل کې یوه لویه ورزشګاه جوړه کړې وه.»

هغه وايي، دا ډېر ښه چانس و، ما دلته خپله الګو پیدا کړه، که هغه پر دې توانېدلی وی چې دا کار به کوي، ما هم کولای شوای. ما هم غوښتل چې د بدن ښکلا سیالیو یو وتلی لوبغاړی شم. په سینما کې کار کولو ته مې هم زړه کېده او غوښتل مې شتمن شم، هماغه وو چې خپلې موخې او هیلې مې پیدا کړې.

## نادم: روانه کب میاشت ۴۵ زره افغان کډوال له ایرانه هېواد ته راستانه شوي



د هرات د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست چارواکو ویلي، په ایران کې د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله د کب میاشتې له پیل راهیسې تر اوسه نږدې ۴۵ زره افغان کډوال له دغه هېواده د اسلام کلا بندر له لارې هرات ته راستانه شوي دي.


د هرات د کډوالو چارو رییس جاوید نادم رسنیو ته ویلي: «د کب د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه په ایران کې د کرونا ویروس خپرېدل زیات شوي، تر اوسه پورې زموږ شاوخوا ۴۵ زره هېوادوال په خپله خوښه له ایرانه راستانه شوي دي، خوشبختانه تر اوسه مو د کرونا مشکوکې پېښې نه دي لرلې، یوازې د پنجشنبې په ورځ یوه مشکوکه قضیه وه چې ناروغ په اسلام کلا کې له صفري نقطې د امبولانس په وسیله هرات ته انتقال شو.»

په ورته وخت کې د افغانستان روغتیایي چارواکي وايي، اندېښنه لري چې هغه افغان کډوال چې له ایرانه راستنېږي، ښایي له ځان سره افغانستان ته د کرونا ویروس ولېږدوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر اوسه یوازې په هرات ولایت کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شپږ پېښې ثبت شوي او له ایران سره د ګډې پولې له کبله په دغه ولایت کې د یاد ویروس خپرېدو خلک سخت اندېښمن کړي دي.

د یادونې ده چې ایران په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د کرونا ویروس تر ټولو زیات ځپلی دی. د د ایران د روغتیا برخې چارواکو تېره ورځ اعلان وکړ چې یوازې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د دغه ویروس له کبله ۹۶ کسان مړه شوي دي.

## طالبان: په ختیځو سیمو کې د داعش ټول مرکزونه له منځه وړل شوي



وسله والو طالبانو ویلي چې د هېواد په ختیځو سیمو کې یې د داعش ډلې پر ضد چانیز عملیات کړي او د دغې ډلې مرکزونه یې په بشپړه توګه له منځه وړي دي.

د طالبانو له خوا په خپره شوي خبرپاڼه کې راغلي چې د ولسي وګړو په ملاتړ یې د داعش مرموزه او ظالمه ډله له بېلابېلو سیمو څخه شړلې، ډېر جنګیالي یې وژلي او په سلګونو نور یې دوی ته تسلیم شوي دي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې دغې ډلې یوازې د ختیځو ولایتونو په څو محدودو سیمو کې فعالیتونه کول چې د وروستیو چانیزو عملیاتو په ترځ کې یې مرکزونه تصفیه شوي دي.

سرچینې زیاته کړې: «موږ کلکه اراده لرو چې له افغانستان څخه دغه ډله محوه او د تل لپاره یې هېوادوال له زیانونو خلاص کړو او هڅکله به داعش ته دا فرصت ورنه کړو چې افغانستان د فتنې مرکز وګرځوي.»

طالبانو دغه راز له خلکو هم غوښتي چې داعش ډلې ته د جلب و جذب، روزنې، بسپنې او نور فعالیت اجازه ورنه کړي، څو ونه توانېږي چې په افغانستان کې د بې ګناه خلکو وینې وبهوي، د خلکو تر منځ کرکه او اختلاف رامنځ ته او په دې سره افغانانو او نړیوالو ته له افغانستانه ګواښ پېښ کړي.

د یادونې ده چې داعش ډلې لومړی په ننګرهار ولایت کې نفوذ وکړ او وروسته تر کونړ او نورو ولایتونو ورسېده.

که څه هم ولسمشر غني څو میاشتې مخکې ننګرهار ولایت ته د سفر پر مهال د دې ډلې د له منځه وړلو اعلان وکړ، خو د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد څو ورځې مخکې په یوه مرکه کې وویل چې طالبانو ورسره د داعش په له منځه وړلو کې همکاري کړې ده. دغه راز یوه امریکایي جنرال هم ویلي چې د داعش پر ضد په جګړه کې یې له طالبانو سره لوجستیکي مرسته کړې ده.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۱۵ |
| € | ۸۳,٤۰ |
| Rp. | ٤۸۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۵مه | ۵۲۹مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲٤ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۳ | ۱۹ |
| ۵ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۳ | ۱۱ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۱ | لمر ختل ۰٦:۰۵ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیگر ۰۳:۲۷ | ماښام ۰٦:۰۱ | ماخوستن ۰۷:۲۵

## نړۍ



# ګوتریش: نړۍ باید د وبرې پر ځای د کرونا ویروس د کنټرول او مخنیوي لپاره هڅې چټکې کړي

۳

## مقام ولایت بلخ: مراسم نوروز و پروازها با هند و ایران در مزارشریف لغو شد




مقام ولایت بلخ می گوید که به اساس حکم ریاست جمهوری، مراسم نوروز را بطور رسمی و عمومی لغو کرده است.

محمد بشیر توحیدی معاون مقام ولایت بلخ، دیروز در یک نشست خبری در مزارشریف به رسانه ها گفته است که از ترس شیوع ویروس کرونا، مراسم نوروز سال ۱۳۹۹ بطور رسمی و عمومی لغو شده است.

وی افزوده است که همچنان از تاریخ ۲۴ حوت، پرواز های مزارشریف با هند و ایران نیز به تعویق افتاده است.

به گفتۀ توحیدی، مقام ولایت بلخ به هوتل های مزارشریف نیز خبر داده است که از تجمعات مردم جلوگیری کنند.

مکاتب دولتی و شخصی و پوهنتون ها نیز یازده روز پیش در بلخ رخصت شده بودند، که به گفتۀ معاون مقام ولایت بلخ، رخصتی مراکز یاد شده نیز بجا مانده است. مراسم نوروز هر سال در شهر مزارشریف در زیارتی که منسوب به حضرت علی است؛ با بالا کردن جهنده برگزار می شود؛ اما امسال برای جلوگیری از مرض کرونا، این جشن بشمول بلخ، در تمام کشور لغو شده است.

شورای امنیت ملی افغانستان نیز چند روز پیش در یک نشست، فیصلۀ تجلیل نکردن نوروز را کرده بود. پیش از این در ولایات فراه، هرات و نیمروز نیز تمام مکاتب مسدود شده است.

قابل یادآوریست که از سوی سازمان صحی جهان نیز بیماری کرونا یک وبای جهانی اعلام شده که تا هنوز در ۱۲۲ کشور شیوع کرده است.

## د سینې سرطان د کنټرول پروګرام ته د نغدو پیسو ورکړه

عزیزي بانک د خپلو کړنو او مرستو په دوام، دا ځل د مارچ د اتمې په مناسبت چې د ښځو نړیواله ورځ ده، د سینې سرطان د مخنیوي له پروګرام سره نغده مرسته وکړه. دا پروګرام چې د ۲۰۲۰ ز کال د مارچ میاشتې په اوومه د ښځو چارو وزارت د تخنیکي او سیاسي مرستیالې مېرمن سپوږمۍ وردګ په دفتر کې جوړ شوی و، د عزیزي بانک لوی سلاکار د پیسو چک د ښځو چارو وزارت د تخنیکي او پالیسۍ مرستیالې په حضور کې میهن عبدالله ته چې د سینې سرطان د مخنیوي پروګرام مسوول دی، ډالۍ کړ. عبدالفتاح کریمي، د عزیزي بانک لوی سلاکار د چک د ډالۍ کولو پر مهال د روغتیا په برخه کې په ځانګړي ډول له ښځو سره د لا ډېرو مرستو ټینګار وکړ. ښاغلي عبدالله د سینې سرطان په برخه کې د عزیزي بانک له مرستو ستاینه وکړه او په خورا زیان منونکو برخو کې یې د پیسو لګولو پر روڼتیا ټینګار وکړ.

د ښځو چارو وزارت د تخنیکي او پالیسۍ مېرمن سپوږمۍ د عزیزي بانک د مرستو د منني تر څنګ د عزیزي بانک د خدمتونو او محصولاتو ستاینه هم وکړه.



## در مورد تبصره ضمیر کابلوف نماینده خاص رئیس جمهوری روسیه برای افغانستان

در این اواخر گزارش‌های باستناد اظهارات ضمیر کابلوف نماینده خاص رئیس جمهوری روسیه برای افغانستان در رسانه های روسیه، افغانستان و جهان مبنی بر شرایطی شایع میشوند که مبتنی بر آن، روسیه گویا میتواند قطعات نظامی را به افغانستان اعزام نماید.

سفارت روسیه در افغانستان رسماً اعلام مینماید که چنین اظهاراتی در مورد «اعزام قطعات نظامی روسیه به افغانستان» از طرف نماینده خاص روسیه صورت نگرفته و رهبری روسیه پلان های مشابه را هیچ وقت مورد بررسی قرار نداده است.


غیرحرفه‌ای بودن خبرنگاران «آژانس فدرال خبری» روسیه، منبع اول این «fake piece of news» توجه را بخود جلب میکند که با بی وجدانی، نظریات بی اساس شخصی خود را به‌عنوان اظهارات این دیپلومات روسیه قلم داد کرده اند.

ضمیر کابلوف ضمن ارایه جواب به سوال خبرنگار این آژانس، در ۳ ماه مارچ سال روان میلادی راجع به دورنمای انکشاف همکاری های تخنیکی- نظامی بین روسیه و افغانستان پس از ختم پروسه حل و فصل سیاسی و شکل گیری حکومت کامل در این کشور اظهار نظر نموده است.

از تمام آژانس های خبری تقاضا بعمل میاید تا معتبر بودن اطلاعات در رابطه به چنین موضوعات حساس را دوباره مورد تفتیش قرار بدهند.


## ژوند

## څنګه بد عادتونه پرېږدو؟



پوهېږی پرېښودل یې دومره سخت نه دي لکه تاسو یې چې په اړه فکر کوی. که غواړی وزن کم کړی؛ خو د زیاتې ډوډۍ خوړل مو عادت وي، که غواړی سپما وکړی؛ خو زیاتې پیسې مصرفول مو عادت وي، که غواړی ډېر درس وواياست؛ خو هره ورځ په ساعتونو وخت په بې ځایه کارونو تېروی او فکر کوی چې دغه څه ستاسې په مخ کې خنډ دي، نو دا له پامه وغورځوئ، ځکه دا هېڅ بهانه نه شي کېدای. دا یوازې ستاسو بد عادتونه دي او بس. که تاسې له ځان سره کلک هوډ ولری، کولای شی دا هر څه تر خپل کنټرول لاندې راولی، یوازې له ۳ تر ۴ اونیو وخت او یو څه تکلیف غواړي، له هغې وروسته ورسره عادت کېږي. که تاسو هم په ژوند کې له دغه ډول ستونزو سره لاس او ګرېوان وی، د دې پر ځای چې پر ځان غوسه شی او پښېماني وکړی، همدا اوس هم ناوخته نه دی. له ځان سره قاطع پرېکړه وکړئ او په ژوند کې مو بدلون راولئ.

## کرونا ناروغي او امیدوارې مېرمنې



یوه پوښتنه چې کېدای شي په دې ورځو کې د هر چا ذهن کې را وګرځي، دا ده چې کرونا ویروس پر امیدوارو مېرمنو باندې څه اغېز کوي؟ ایا ماشوم ته یې هم انتقالېږي او که نه؟ دا چې تر اوسه پورې د دې ویروس په اړه کافي معلومات نشته، نو دا هم نه ده روښانه شوې چې دغه ویروس امیدوارې مېرمنې ځومره اغېزمنولای شي. دا چې د امیدوارو مېرمنو بدن د ټولو ناروغیو پر وړاندې حساس او دفاعي ځواک یې کمزوری وي، نو کېدای شي کرونا ویروس هم ور باندې ژر اغېز وکړي، مور او ماشوم دواړو ته زیان ورسوي. که خدای مه کړه امیدوارې مېرمنې پر دې ناوړه ناروغۍ اخته شي، پرته له دې چې ماشوم پرې اخته شي، زیان ورته اړولی شي، ځکه له دې ناروغۍ سره هرو مرو تبه وي، که مور د حمل پر وخت درې میاشتې پر له پسې تبه تېره کړي، کېدای شي ماشوم هم له ځینو مورزادي ناروغیو سره نړۍ ته راشي، نو مخکې له مخکې یې باید پر وړاندې اقدام وشي.

ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزی بانک
Azizi Bank

